

عبدالملک پرهیز

# آیا فدرالي نظام د افغانستان په ګټه دی؟

**په داسې حالــ کې چې د جګړې اور ورځ تر بلې تودېږي او د زرګونو بې ګناه‌وګړو ژوند اخلي او له دې‌سره جوخت د سولې خبرې هم تودې شوي دي او لا څرګنده نه چې دا خبرې به د سولې دپاره د افغانستان د خلکو هیلې پوره کړي او که نه؟**

---

په داسې شیبو کې یو شمېر کړیو د سولې د خبرو په درشل کې د افغانستان د راتلونکي نظام د څرنګوالي په اړوند طرحې او وړاندیزونه وړاندې کوي چې له دې وړاندیزونو څخه ځنې یې د فدرالیزم او د واک د غیرمتمرکز کولو طرحې او وړاندیزونه دي. د افغانستان ټول وګړي حق لري د افغانستان د راتلونکي نظام د څرنګوالي په اړوند خپلې طرحې او وړاندیزونه وړاندې کړي، د طرحو سوله ایز وړاندیز چې د بحث او مشورې زمینه برابروي او د نویو لانجو د رامنځ ته کولو مخه او هدف و نه لري ، ښه او وړ کار دی ، خو که د طرحو ترشا نورې ویجاړونکي موخې شتون ولري او هدف یې د نویو کړکېچونو رامنځ ته کول وي ، نو اړینه ده څو دا مساله جدي ونیول شي او تر وړاندې یې پراخ ملي غبرګون څرګند شي. اړینه ده څو افغانان د وړاندې شویو طرحو اړوند خپلې نظریې او شننې وړاندې کړي څو د وړاندې شویو طرحو منځ پانګه او هدفونه راښکاره او برسېره شي. دا د افغانستان د خلکو حق دی څو د هیواد د راتلونکي نظام په اړوند وروستۍ پریکړه وکړي. هرڅومره طرحې زیاتې وي هماغومره د ښه غوراوي او د ملي مشورې د پاره

امکانات هم زیات وي . خو په اوسني وخت کې چې د بې شمېره ستونزو او لانجو څخه یوې هم د حل لاره نه ده موندلې، پر ځای ده چې ددې طرحو د وړاندې کوونکو پر نیت او اراده شک وشي.

دا چې د طراحانو اراده به څه وي؟ هغه مسله ده چې علمي څېړنې او چلند ته اړتیا لري. د طرحو ټول وړاندې کوونکي د نیکې ارادې اوښو اندونو له مخې وړاندیزونه او طرحې نه وړاندې کوي بلکې د ډېرو تر شا ناوړه اندونه نغښتي چې نه یوازې د افغانستان په خیر نه تمامېږي بلکې د افغانستان ملي یووالي، د ځمکې بشپړتیا او واکمنۍ ته  خطر او ګواښ رامنځ ته کوي. په دې لیکنه کې به د امکان تر بریده هڅه وشي څو د افغانستان دپاره د فدرالي سیستم د وړاندیزونو ځنې اړخونه او موخې تر بحث لاندې ونیول وشي او د کورنیو او بهرنیو کړیو هدفونو په جلا توګه لنډه کتنه وشي.

خو په کار ده لومړی د فدرالیزم  مفهوم ته لنډه کتنه وشي: فدرالیزم څه ته وایي او څه ډول نظام دی؟ فدرالي سیستم په خپل ذات کې یو مترقي او دموکراتیک سیستم دی چې د نړۍ په پرمختللیو هیوادونو کې پې  ښې او بریالۍ بېلګې شتون لري. فدرالیزم  په لغت کې  ژمنې او تړون ته ویل کېږي چې د هیواد څو برخې په یو دولتي تړون کې سره یوځای کوي او ټولې برخې د مرکزي فدرالي دولت څخه تابعت کوي.

په فدرالي نظام کې واک په دوو ملي برخو یانې د مرکز او سیمو تر منځ ویشل کېږي او ددوی واکونه او صلاحیتونه له یو بل څخه توپیرېږي،  دغه واکونه او توپیرونه د اساسي قانون پر بنسټ د مرکزي دولت او د سیمه ایزې خپلواکۍ لرونکي دولتونو ترمنځ رامنځ ته کېږي او هره سیاسي برخه پر خپلو دندو او مسوولیتونو بوختېږي . فدرالي مرکزي دولت د هیواد د ملي ګټو د لومړیتوب پر بنسټ پر سیمه ایزو دولتونو برتیا لري او سیمه ایز دولتونه مکلف دي خپلې کړنې او دندې د فدرالي مرکزي دولت د پالیسیو، قوانینو او تګ لارو او کړنلارو پر بنسټ جوړ او پرمخ بوځي او فدرال دولت مکلفیت لری پر دغه چارو څارنه ترسره کوي.

د سیمه ایزې خپلواکۍ اصل: سیمه ایز دولتونه د چارو د تر سره کولو دپاره د قانون جوړولو، اجرائیوي او قضایي واکونو ټول صلاحیتونه تر لاسه کوي. ټول سیمه ایز دولتونه خپل اساسي قانون ، اجرائیوي او قضایي قوه ، اولسي جرګه یا پارلمان لري. ددغه دولتونو سیمه ایزه خپلواکي په رسمیت پېژاندل کېږي او له مرکزي دولت څخه د واکونو په توپیر خپلې چارې او دندې پرمخ وړي.

سیمه ایز دولتونه د خپلو استازیو له لارې په فدرالي دولت کې په ملي چارو کې هم برخه اخلي چې دغه ګډون د سنا د مجلس له لارې ترسره کېږي.

په دې ډول وینو چې فدرالي دولت یو پرمختللی سیستم دی که یو هیواد د خپل تاریخي ، ټولنیز ، کلتوري او سیاسی جوړښتونو له پلوه د هغې د هضمولو وړتیا ولري ، دا به د دولتمدارۍ ښه بنه وي. نو ځکه په پرمختلیو هیوادونو کې پې پایلې ښې دي خو افغانستان له هر پلوه جنګ ځپلی وروسته پاتې هیواد دی  او له فدرالیزم سره اوږد واټن لري.

د موضوع د ښې روښانتیا دپاره به د فدرالیزم د طرحې د کورنیو او بهرنیو کړیو موخې او هدفونه په لاندې ډول وڅېړو؟

ځنې کړۍ د افغانستان جاري حالاتو ته په بشپړې بې توپیرۍ سره د فدرالیزم له طرحې سره رامخ ته شوي او په زیات هیاهوی سره غوارې افغانان او نړیوال په دې قانع کړي چې فدرالیزم د افغانستان د ستونزو د حل یوازنۍ لاره ده.  دغه کړۍ د افغانستان ستونزې او ننګونې بې له کوم ریښتني اساس او منطقي دلیلایلو ،د فدرالي نظام د نه شتون له امله بولي او داسې  ناسم انځور وړاندې کوي چې ددې نظام په پلي کېدو سره به د افغانستان ټولې ستونزې حل شي او ددوی په وینا افغانستان به ګل او ګلزلر شي!!!  له دې طرحې

د دوی هدف په دغه نازکو حالاتو کې دادی څو د نړیوالو زبرځواکونو او سیمه ایزه مغرضو هیوادونو تر فشار لاندې افغانستان د ویش او پاشل کېدو لور ته بوځي. ځکه دوي پوهیږي چې په افغانستان کې د سولې او ثبات په منځ ته راتلو سره دوی نه شي کولی خپلې طرحې د افغانستان پرخلکو تحمیل کړي نو د کړکېچ دغه دشیې دوی د ځان دپاره طلایي شیې بولي.

خو آیا په رښتیا هم د فدرالیزم شتون به د افغانستان د ستونزو او بدمرغۍ رښتنی علاج وي؟ او آیا په رښتیا د افغانستان ستونزې د فدرالیزم د نه شتون له امله راپیدا شوي؟

دوی د افغانستان د بدمرغیو او جګړو او د عدالت د نه شتون علت د مرکزي دولتونو شتون او دهغو د غیر عادلانه کړنو او چلند له امله بولي ( څرګندده ده چې غیر عادلانه چلند چې د هر دولت له خوا ترسره شي د کړکېچ سبب ګرځي) نو ځکه وړاندیز کوي چې یو فدرالي سیستم به دې ټولو نا خوالو ته د پای ټکی کېږدي. فدرالي سیستم د اداري او واک یو پرمختللی بڼه ده چې د ټولنیز، سیاسي او کلتوري پلوه د پرمختللیو هیوادونو دپاره یې ښې پایلې لرلې دي خو د وروسته پاتې هیوادونو له پاره په تیره بیا د افغانستان دپاره چې د نړۍ یو ډېر وروسته پاتې هیواد دی او نیمه پېړۍ یې له بهر څخه د را تپل شوی جګړو په اور کې تیر کړې او ټول اساسي او بنسټیز جوړښتونه یې ویجاړ او له منځه تللي او افغانانو ته یې ګڼ او بې ساري مصیبتونه او ناخوالې په میراث پرې ایښي دي ، یو وړ او له حالاتو سره برابر نظام نه دی. دلته به هغه فاکتونو او حقایقو ته ګوته ونیسو چې زموږ نظر تاییدوي: - د افغانستان بنسټیز جوښتونه په بشپړه توګه له منځه تللي، - د اقتصادي پلوه په بشپړه توګه په بهرنیو مرستو او پورونو پورې تړلی او جګړه لا په ټول قوت سره روانه ده چې انساني او اقتصادي ویجاړۍ رامنځ ته کوي، - ټولنه له رواني پلوه په بشپړه توګه ناروغه ده او جګړیز اخلاق د خلکو په روح او روان واکمن شوي، - فرهنګ او کلتور له سخت بهرني برید لاندې دی، - فساد او بې قانوني په ډېر لوړ حد کې دي او- بهرنی لاس وهنې په ټول قوت سره دوام لري.
دې حالاتو ته په پاملرنې سره دا نه یوازې یو وړ او مناسب وړاندیز نه دی بلکې دا به د افغانستان د راتلونکي دپاره ویجاړونکې پایلې ولري. دا چې وایو دا به د افغانستان دپاره ویجاړونکي پایلې ولري دلیل یې دادی چې د افغانستان د وروستۍ نیمې پېړۍ ستونزې او جګړې نه یوازې د دولت د بڼې د څرنګوالي زېږنده نه دي بلکې دا د بهرنیو لاس وهنو پایله ده په تېره بیا په شلمه پېړۍ کې ددوو سترو نړیوال زبرځواکونو یانې د کاپیټالستي لویدیځ او د سوسیالستي ختیځ د سړې جګړې او سیالۍ پایله ده او تر ننه په نویو حالاتو کې په نوې بڼه او له نویو لوبغاړو سره دوام لري، نو په ویشلی افغانستان کې به د نړیوالو او سیمه ایزو سیالیو دپاره حالات نور هم مساعد کړي او جګړې به شدت پیدا کړي . دا چې وایو د افغانستان جګړه د مرکزیت او مرکز څخه د تښتې جګړه نه ده دلیل یې دادی چې د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې د جهادي تنظیمونو او د وخت د دولت ترمنځ جګړه د مرکز او سیمو تر منځ د واک د ویش جګړه نه وه بلکې دا یوه ایدیولوژیکه جګړه وه چې له یوې لوري د شوروي اتحاد او له بلې لورې د امریکې د متحده ایالتونه او متحدین یې ولاړ ول. دې جګړې له اتنیکي او قومي اختلافونو سره تړاو نه درلود د جګړې په دواړه خواو کې د هیواد ټولو ملیتونه خلک او د ټولو ژبو ویونکې د خپلو عقیدو او فکري توپیرونو پر بنسټ راټول شوي ول . په یو لوري کې د طبقاتي مبارزې شعارونه او په بلې خوا کې د اسلام شعارونه ول. خو په حقیقت کې داد د دوه نړیوالو سیستمونو جګړه وه او د جګړې ماشین د هغه میلیاردونو ډالرو او وسلو په وسیله چلېده چې د دوو سیستمونو له لورې د دغه جګړې د دوام دپاره لګول کېدې. د شوروي اتحاد په ړنګېدو او په افغانستان کې د مجاهدینو د رژیم په رامنځ ته کېدو سره د کفر او اسلام په نامه جګړه پای ته و رسیده او دا په حقیقت کې د ایدیولوژیکې جګړې پای ؤ ، خو جګړه پای ته ونه رسېده او د شوروي او امریکې تشه سیمه ایزو هیوادونو ډکه کړه چې تل افغانستان ته یې د آسانه مړۍ په توګه کتل او ګوري. په دې ډول جګړې بڼه بدله کړه ، تنظیمي ډلو چې پخوا یې په اصطلاح د اسلام دپاره ګډه مبارزه کوله، وسلې

د یو بل پر خلاف را وګرځولې ، دوی د قوم، ژبې او مذهب په نامه د جګړې ډګر تود کړ. دوی هڅه وکړه او کوي څو دا جګړه په ریښتیا هم قومي او ژبنۍ بڼه غوره کړي، د سیمې هیوادونو چې اوبه یې خړې کړي د کبانو په نیولو اخته شول او هیله مند ول او دي څو ددغه اختلافونو پر بنسټ د افغانستان سیمې تر خپل کنترول او اغیز لاندې راولي . باید وویل شي چې حالاتو څرګنده کړه چې د اسلام دپاره مبارزه د اسلام دپاره مبارزه نه وه، د اشغال خلاف مبارزه د اشغال خلاف مبارزه نه وه، ځکه نه کوم اسلامي دولت جوړ شو او نه افغانستان آزادي تر لاسه کړه ، د شوروي ځای دوه ځلویښت هیوادونو ونیوه. او ګاونډیو خپل واک تر بل هر وخت زیات کړ. نو دا شعارونه د ساده خلکو د تېر ایستلو شعارونه ول او نن هم د ملیت، ژبې او قوم په نامه شعارونه د ساده خلکو د تېر ایستلو شعارونه دي، دوی غواړي په خلکو کې نفرت او کینه دومره غښتلې کړي څو ددوی دپاره د ځان د قربانۍ دپاره چمتو و اوسي او په پای کې د همدې نفرتونو پر بنسټ هیواد وویشی او هر زورواک ځان د سیمې واکدار او سلطان کړي، خو دوی باید پوه شي هیڅ هیواد ددوی له سلطانولو سره مینه نه لري بلکې هغوی غواړي دغه هیواد د همدغه خلکو په وسیله د ځان غلام او برده کړي.

د همدغه هیوادونو د لاس وهنو په پایله کې هیواد په عملي ډول د ملوک الطوایفي او بربریت دورې ته ور ټیل وهل شو  نړیوالو تروریستي شبکو چې لا له  په خوا یې د جهادي ډلو په لیکو کې شتون درلود او په یو شمېر هیوادونو په تېره بیا په پاکستان کې یې پراخې اډې لرلې ، د آی اس آی په اشاره افغانستان د خپلو نړیواله تروریستي فعالیتونو او هدفونو دپاره غوره کړ او د جهادي تنظیمونو په مرسته په افغانستان کې ځای پر ځای شول. د جهادیانو تورې دورې افغانستان ته فساد ، بې قانوني ، چوراو چپاول ، بې امنیتي ، د مصونیت نه شتون، بې عدالتي او تروریزم  په سوغات راوړ، همدغه پاکستان چې جهادیان یې د خپل وطن د ویجاړولو دپاره وکارول ، ددوی پر خلاف یط طالبان رامخ ته کړل او د طالبانو دپاره نور الترناتیفونه لري څو دغه هیواد بیخي له پښو وغورځوي او بیا آسانه یې اشغال کړي.

په ۲۰۰۱ کال کې د نړیوال ټولنې تر یرغل وروسته د جهادي /تکنوکراتانو د ادارې په رامنځ ته کېدو سره  پخوانیو بنسټپاله او جګړه ماره ډلو ته بیا موقع په لاس ورغله او په نوي اداره کې د دموکراسې تر سیوري لاندې راټول او واک یې تر لاسه کړ.  نژدې شل کاله دغه غیر دموکراتیک او په فساد ککړ رژیم د یو سهامي شرکت په بڼه د افغانستان پر خلکو و تپل شو. چې د بې عدالتۍ، فساد ، چور او چپاول ، قانون ماتونې او زورواکۍ ریکارډ یې ټینګ کړو ، دوی یو ځل بیا د قومي ، ژبنۍ او مذهبي دوښمنیو اور ته په لمن وهلو پیل وکړ. دغه ناوړه غوراوي یو ځل بیا افغانستان یو داسې پړاو ته ورساوه چې جنګسالارانو په ټول هیواد کې د قومي تاوتریخوالي پربنسټ بشپړ واک تر لاسه کړ او هیواد په عمل کې د جنګسالارانو د واک پرسیمو وویشل شو  همدارنګه زورواکانو دولت دومره په خپلو مردارو منګولو کې قبضه کړ چې په تاریخ او نړۍ کې یې سارى لیدل شوی نه دی. مرکزي دولت تش په نامه او سمبولیکه بڼه غوره کړه ،« ولسمشر نه شو کولی خپل مرستیال له خپلې څوکۍ پاځوي». مرکزي دولت آن د یو کوچني «قوماندان» د نیولو وس او توان له لاسه ورکړ.  زورواکانو د خپل واک په سیمه کې د خلکو د وهلو، وژلو او د هغوی د مال او شتمنۍ د اخیستلو پوره واک تر لاسه کړ . موږ د قانون ماتونې، بې کنټروله بربریت، قتلونو، چور او د ملي شمتنیو د غصب شاهدان وو او یو، په لنډه موده کې د ملت په وینو پانګه وال او میلیونران را وبوټېدل .

ددې حقایقو په رڼا کې ویلی شو چې په تیرو کالونو کې نه مرکزي دولت شتون درلود او نه شتون لري .

د پورته حالاتو له امله طالباني عوامل چې په ۲۰۰۱ کال له واک څخه وشړل شوي ول ، بیا د پاکستان په مرسته او ملاتړ  د غښتلي پوځي ځواک په توګه سر اوچت کړ او د شل کلنې جګړې وروسته یې نړۍ واله ټولنه دې ته اړکړه څو دغه ځواک د سیاسي او پوځي واقعیت په توګه په رسمیت وپېژني او واک ته د

ستنیدو لاره ور پرانیزي. له روانو بهیرونو څرګندېږي چې د افغانستان جګړه د افغانستان د خلکو جګړه نه وه او نه ده ، دغه جګړه د سترو قدرتونو او سیمه ایزو هیوادونو د ګټو جګړه ده.

نو ځکه په ډاډ سره ویلی شو چې د افغانستان د بدمرغۍ علت په متمرکز او متمرکز سیستمو کې نغښتی نه دی بلکې د ستر زبرځواکونو او د سیمې د هیوادونو د پرله پسې لاسو وهنو او له زوزواکانو او جنګي ډلو ټپلو څخه د هغوی د ملاتړ له امله رامنځ ته شوی.

په ټولیز ډول د افغانستان د پاره د فدرالیزم له مفکورې سره لاندې کړی علاقه مندي لري:

جهادي ډلې چې د شلو کلونو په واکمنۍ په ترځ کې د میلیاردونو پانګې او شتمنۍ خاوندان شول او په تیرو شلو کلونو کې یې د زورواکۍ، فساد او خپلسرۍ واکمني د بهرنیانو د پوځي او اقتصادي مرستو تر سیوري لاندې وچلوله او نن خپل بې ساری واک ، شتمنۍ په خطر کې ویني او غواړي د فدرالي سیستم په اډانه کې خپل ځای ، واک او ځواک د قومونو او ملیتونو څخه د سپرد جوړولو له لارې خوندي کړي. تنګنظره او متعصبه سکتاریستي کړۍ هم د خپل تنګ فکر له دریځه د افغانستان د پاشل کېدو هیله لري. هغه هیوادونه چې په افغانستان کې د کړکېچ په دوام کې خپلې ګټې ویني او په افغانستان کې نیابتي ډلې لري ، دوی هم ددغه جنایتکاره ډلو په بې واکه کېدو سره خپل نفوذ او اغیز په خطر کې ویني نو ځکه دغه هیوادونه هم هڅه کوي خپله جګړه د خپلو نیابتي ډلو ټبلو له لارې د افغانستان د قومونو او ملیتونو لیکو ته وغځوي او له دې لارې خپل اغیز او واک په افغانستان کې وساتي.

اوس به د افغانستان د کړکېچ بهرني علت ته لنډه کتنه وکړو چې د افغانستان د بدمرغي زمینه یې برابره کړې ده.

**د امریکې متحده ایالاتونه:**

په اوسني جیوپولیتیک کې د امریکې استراتیژي « د نوي چاپیریال» جوړولو ته متوجه ده، په دې مانا چې سیمې داسې جوړې شي څو د امریکې د مخالفانو په تېره بیا د چین او روسیې پر خلاف اقتصادي، سیاسي او پوځي خنډونه رامنځ ته شي ، داکار به سبب شي څو د امریکې مخالفان ونه شي کولی پر امریکې برتیا تر لاسه کړي. له افغانستان څخه به د امریکایي ځواکونو په وتلو سره سیمه به له ستر پوځي آزمایښت سره مخامخ شي. ګاونډې هیوادونه به په افغانستان کې د امریکې او ناټو د ځواکونو د تشې د ډکولو هڅه وکړي او په سیمه کې به نوي سیاسي او پوځي خوځښتونه رامنځ ته شي چې نه یوازې افغانستان بلکې ټوله سیمه به په سر واخلي.

امریکا په افغانستان او سیمه کې سترې ګټې لري چې همدغه ګټو د امریکې پښه افغانستان ته راکشه کړه . نو په یقین سره ویلی شو چې امریکا به د خپلو پوځونو په ایستلو سره ،په نوي بڼه به خپل شتون ته په سیمه کې دوام ورکړي.

د موضوع له اوږدېدو څخه د مخنیوي دپاره دلته به یوازې خپله پاملرنه د افغانستان په دننه کې د امریکې د لوبې اصولو او بنې ته واړوو. په لومړی پړاو کې دغه هیواد هڅه وکړه څو په لږ لګښت سره افغانستان تر خپل کنترول او څارنې لاندې راولې نو ځکه یې د څو میلیونو ډالرو په لګولو سره یو شمېر زورواکي او جنګسالاران وپېرل او د ځمکني ځواک په توګه یې وکارول او د طالبانو جنګي ماشین یې مات کړ . دویم پړاو افغانستان ته د لوی پوځ استول او افغانستان ته د یوې اداري جوړول ول. په نوي اداره کې واک په عمومي توګه هغه جنګي ډلو او جنایتکارانو ته په لاس ورغی چې په نویمو کلونو کې یې سترجنګي جنایتونه ترسره کړي ول . دوی په لږه موده کې له واک څخه په ناوړه کار اخیستو سره سترې پانګې تر لاسه کړې او د سیمو ټولې اقتصادي منابع یې په خپل واک ونیولې. جنګسالارانو ته اجازه ورکړی شوه څو له

هر چا سره چې یې زړه غواړي ډغرې ووهي او د دولت جوړوني د بهیر مخه ونیسي. جنګسالاران ته اجازه ورکړی شوه د ولسمشر، قوانینو او د هر څه پر خلاف پاڅون وکړي چې د دوی د ګټو او واک خلاف ول . خو دا اجازه یوازې په خپل منځي معاملو کې ورکړی شو ، خو د بهرنیانو پر خلاف ددوې آزادۍ ته سرې کرښې ایستل شوي وې چې که ترې سرغړونه شوې وای نو ښې پایلې به ورته ونه لري نو ځکه په شلو کلونو کې د بهرنیانو خلاف له جنګسالارانو چا یوه کلمه هم وا نه وریده. په دې لوبه کې امریکې جنګسالارانو ته پانګې او واکونه ورکړل او کوچني شاهان یې ترې جوړ کړل . ددې لوبې هدف دا ؤ څو د دوي په مرسته دولت په خپل کنترول کې وساتي او هر وخت وکولی شي خپلې موخې او هدفونه پرې ومني .دوی د جنګسالارانو واکونه په داسې انډول وساتل چې که یو سرغړونه وکړي بل پسې را پورته کړي او د بل پسې هغه بل او یا د دولت په وسیله یې وځپي. نو ځکه شل کلنه واکمني په ناندریو او ډغرو کې تېره شوه او د دولت جوړوني بهیر په ټپه ودرید او اساسي او بنسټیزې چارې ترسره نه شوې . په جنګ سالارانو کې د واک او پیسو حرص او تنده دومره غښتلې ده چې چمتو دي د خپلو ګټو دپاره وطن او خلک د سترې بدمرغۍ کندې ده ګوزار کړي لکه څنګه چې دوي په نویومو کلونو کې د همدغه حرص پربنسټ افغانستان بدمرغه کړ او د سولې پروګرام چې د بري په درشل کې ؤ ناکام کړ. اوس چې امریکا د نویو نړیوالو حالاتو او کورنیو بدلونونو له امله پریکړه کړې له افغانستان څخه ووځي ، بیا هم امریکا غواړي افغانستان په نوې بڼه په خپل کنترول او څار کې وساتي او خپل استخباراتي او سیاسي شتون چې د سیمه ایزې لوبې دپاره ډېر اړین دی، وساتي او ان د څنیو اډو د ساتلو امکان هم لیدل کېږي د دوهې د ترون له پټو رازونو څوک خبر نه دي، خو موږ وینو چې ددغه ترون مواد یو په بل پسې د پلي کېدو په حال کې دي. د افغانستان د آسانه او ارزانه کنترول لاره بیا هم هماغه د افغان تر وړاندې د افغان درول دي او دا کار هغه مهال ممکن دی چې افغانستان په سیمه ایز واک لرونکو دولتونو وویشل شي څو سیمې له مرکز او مرکز له سیمو سره په همېښني لانجه کې ښکیل پاتې شي ، افغانستان داسې هیواد نه دی چې سیاسیون وکولی شي د سیاسي خبرو اترو له لارې مسایل حل کړي ، دا تجربه د مختلفو رژیمونو څخه لري. اوس چې جنګسالاران د افغانستان د سیاست واک برمته کړی نو ددې لوبې د پاره حالات پوره جوړ دي. د سیمه ایز دولتونو جوړېدل به امریکې ته دا امکان هم ورکړي چې د څنیو جنګسالارانو سره موافقې ته ورسیږي او پوځي اډې تر لاسه کړي.

امریکا په سوریه کې له زیاتو سیمو په شا شوله، خو د سورېې یوه برخه یې چې نفت لري د کردانو په مرسته تر خپلې ولکې لاندې وساتله . داکار په افغانستان کې هم که حالات غوښتنه وکړي ترسره شي.

ددې سناریو د پلي کېدو د چمتووالي ځني نښې نښانې تر سترګو کېږي د افغانستان په شمال کې دوستم، په هرات کې اسماعیل خان په مرکزي افغانستان کې وحدت ډله محقق، په ننګرهار کې حاجي ظاهر په پنجشیر کې احمدمسعود ....او داسې نورې وسله والې ډلې چې په ۹۰ لسیزه کې یې افغانستان په کنډواله بدل کړی ؤ ، بیا په وسلو د سمبالېدلو او زور ښودنې په حال کې دي، دوی هم د دولت له سنګره او هم له دولت څخه بهرخپل دریځونه غښتلي کوي. محقق د ولسمشر امنیتي سلاح کار ټاکل شوی، دوستم ته امریکایي جنرال مډال په سینه وټمبه او مارشالي ورکړی شوه یو شمیر نور هم په لویو او کوچنیو څوکیو کې نصب شوي دي او نصبیږي . دغه ډلې همدا اوس له یوې خوا دولت ګواښي او له بلې خوا له دولت څخه ګټه پورته کوي. د سولې د بهیر تر بریالي کېدو وروسته همدغه ډلې ټپلې به د فدرالي دولتونو واکمنان شي او هغه دنده چې نن ترسره کوي سبا به یې هم ترسره کړي. نو دا چې په امریکې کې هم ځنې کړی د افغانستان د فدرالي کېدو نغمې غږوي ، علت یې دا دی چې دوی غواړي د همدغه جنګسالارانو په وجود کې د خپلې لوبې د دوام دپاره لاره اواره کړي. خو دا امکان هم شته چې د امریکایانو تر وتلو وروسته، مذهبي

تند لاري بیا پر افغانستان واکمنه شي چې دا به د ټولې سیمي دپاره ستر ناورین و زیږوي او ټوله سیمه به په غېږ کې ونیسي.

**ترکیه او پان ترکیزم:**

ترکیه په دې سیمه کې نوی عنصر دی چې د افغانستان له مسایلو سره علاقه مندي ښايي. په ۲۰۲۰ کال کې ترکیې پان ترکیزم ( ګراند توران) بیا فعاله کړی شو ، د منځې اسیا د ترکې ژبو د پیوستون پروژه چې د لومړۍ نړېوالې جګړې په اوږدو کې د عثماني امپراتورۍ د دفاع وزیر انور پاشا ناسیونالیستي او نژاد پالونکې میراث دی . اردوګان په منځني ختیځ کې د قومي او ژبني انګېرنې پر بنسټ غوارې آذربایجان، ترکمنستان، ازبکستان، قرغزستان او قزاقستان سره یو موټې او ونښلوي چې د افغانستان د شمال ترک نژاده اوسیدونکي هم ددغه استرتېژۍ مهمه برخه جوړوي. په ۱۹۹۲ کال ترکیې ددغه سیمې سره د فرهنګي، زده کړې، انرژۍ او سوداګرۍ په برخه کې اقدامات پیل کړي ول چې هغه وخت د روسیې له سخت غبرګون سره مخامخ شو ځکه دا د شوروي اتحاد یوه برخه وه او روسیه یې د خپلې ګټې سیمه بولي خو ځلوېښت کاله وروسته د قواو انډول هغه پخوانی نه دی او له بلې خوا روسیه د ترکیې سره د اړیکو جوړولو او د ترکیې د ملګري کولو ستراتیژي پرمخ وړي او نه غواړي له ترکیې سره خپلې اړیکې ویجاړې کړي، نو ځکه ترکیه د خپل دریځ د ټینګولو تر وړاندې خنډ نه ویني. ترکیه چې د عثماني امپراتوري خوبونه په نوې بڼه ویني د ایران سره په سیالۍ کې د سیمه ایز زبرځواک کېدو هلې ځلې کوي او هڅه کوي ایران په شا وتمبوي. ترکیې د آذربایجان او ارمنستان په جګړه کې غوڅ رول و لوباوه او ایران یې ځنډې ته کړ. روسي هم ترکیې ته د امتیازونو په ورکولو سره خپل پوځي شتون په سیمه کې غښتلی کړ، چې دوه هدفونه یې په نښه کړې ول، د ارمنستان دولت ته جزا ورکول چې له روسیې څخه یې واټن اخیستی ؤ او لویدیځ ته یې مخه کړې وه، او هم په دغه سیمه کې د خپل پوځي شتون پیاوړي کول او د لویدیځ د نفوذ مخنیوی ؤ چې په دې کار سره یې ارمنستان لا په روسیې پورې و تاړلو او ترکیه چې د ناتو غړیتوب لري د لویدیځ د ګټو خلاف وکاروي او په دې ډول ترکیه هم چې د سیمې له امکاناتو څخه د ګټې اخستلو هیله لري او غواړي د آذربایجان له لارې منځني اسیا ته خپله لاره پرانیزي ، د روسیې سره د ښو اړیکو د ساتلو اړین دی . روسیه د خپل هغه پوځي دریځ له مخې چې تر لاسه کړی یې دی هر وخت کولی شي پرترکیې هغه لاره او امکانات بند کړي چې د وروستیو بدلونو په ترڅ کې یې تر لاسه کړي دي.

اوس چې ترکیه د منځنۍ آسیا په لور را روانه ده ، په افغانستان کې د خپلو ستنو د ټینګولو هڅه کوي. تر کیه په سیمه او افغانستان کې د سني مذهب ، د اخوان المسلمین او پان ترکیزم د کارتونو په لرلو سره خپله لوبه پرمخ وړي. ترکیې د پان ترکیزم پربنسټ دوستم ته چې لا له ډېرې په خوا یې د پان ترکیزم دپاره فعالیت پیل کړی ؤ ، ځانګړې پاملرنه اړولې، چې کولی شي د ترکیې ګټې په منځني اسیا او سیمه کې خوندې او ممکن کړي. ازبکستان چې ترک نژاده هیواد دی ، د ترکیې سره په اړیکو کې پېچلتیا لري نو ځکه د افغانستان شمال به د ترکیې په لاس کې پر ازبکستان د اغېزې اغېزمنه وسیله وګرځي. د افغانستان په شمال کې د پان ترکیې د مفکورې تر اغېز لاندې د فدرالي سیمې منځ ته راتګ د ترکیې دریځ به پیاوړی کړي، په همدې دلیل ترکیې د افغانستان د سولې خبرو ته په ترکیه کې علاقه منده ده. ان ترکیه علاقه منده ده چې د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته افغانستان ته زیات پوځیان واستوي. خو ترکیې د چیني ترکانو یانې ایغوریانو پر ناوړه حالت چوپتیا غوره کړې ځکه ترکیه په پام کې لري له چین سره خپلې سوداګریز اړیکې غښتلې کړي او نه غواړي د ایغوریانو پر مساله له چین سره خپلې اړیکې ترینګلې کړي. خو ترکیه په ډېره نرۍ پوله ګام اوچتوي یانې له یوې خوا باید د امریکې او اروپایي اتحادیې سره خپلې اړیکې وساتي او د ناتو غړیتوب کې پاتې شي او له بلې خوا د دوی له دښمن لوري چین او روسیې سره اړیکې پراخې کړي.

**فرانسه:**

فرانسه هم یو له هغه هیوادو څخه ده چې د سړې جګړې له وخته په افغانستان کې یې فعالیت درلود په تېره بیا د نظار له شورا سره یې ټینګې او نژدې اړیکې درلودې او خپلې اړیکې یې لا تر اوسه له دغه ډلې سره ښې تودې ساتلې دي . په دې وروستیو کې د احمدشاه مسعود په نامه د یوې لارې د نومولو په مراسمو کې یې ددغه ډلې زیات مشران پاریس ته ور بللي ول، چې کېدی شي د افغانستان په راتلونکې کې ددغه ډلې د درېځ د پیاوړې کېدو سره تړاو ولري. له فرانسې سره د دغه ډلې اوږده ملګرتیا او اړیکې او د لاجوردو او زمردو کار او بار د فرانسې دپاره ښې او آرزانه ګټې لري، نو ځکه فرانسه د خپل دغه کار اوبار له دوام سره علاقه لري او غواړي د افغانستان په راتلونکې سیاسي جوړښت کې ددغه ډلې ځای خوندي شي، نو د مرکز کمزوري کېدل او د سیمو غښتلي کېدل به د فرانسې دغه هیلو هم پوره کړي.

**ایران :**

ایران چې د افغانستان لویدیځ ګاونډی هیواد دی ،هم ځان د سیمې زبر ځواک بولي ، په منځنې ختیځ په تېره بیا ، عراق، سوریه، لبنان، فلسطین او یمن کې د ایران پراخې لاس وهنې او پوځې خوځښتونه دغه خبره تایید کوي. ایران د افغانستان په څلویښت کلنه جګړه کې تر پاکستان وروسته دویم مداخله کوونکی هیواد دی . ایران د پراختیا غوښتنې تر خوا د منځنې ختیځ او د اسیا په دغه سیمه کې د سعودي عربستان سره په سخته مذهبي سیالۍ کې ښکیل دی. په نویوموکلونو کې، دغې سیالۍ د افغانستان دپاره خونړۍ پایلې پر ځای پرېښودې. په اوسنې وخت کې دغه هیواد له ترکیې سره هم په سیالۍ کې ښکیل شوی دی چې ځنې ببلګې یې دمخه یادې شوې. ایران په افغانستان کې د مذهب او ژبې پر بنسټ خپله لوبه پرمخ وړي او د سړې جګړې له وخته یې په افغانسستان کې د اته ګونه تنیظیمونو مرسته او ملاتړ کړی او په وروستیو کلونو کې یې د فاطیمیونو او زینبینو وسله والې ډلې هم د افغان کډوالو له منځه جوړې او په وسلو سمبال کړې دي. په ایران کې تر درې میلیونه افغاني کډ وال تر سختو شرایط لاندې ژوند کوي چې ایراني واکمنان د هغوی د سختو حالاتو او مجبوریتونو څخه په ناوړه ګټې اخیستنې سره، کډوال ځوانان د لږو پیسو په بدل کې د سوریې او نورو هیوادونوجګړو ته استوي. ایران د مذهب له کارت څخه په عراق، سوریه، یمن ، لبنان کې په قوت سره ګټه اخلي او خپل ځواک په دغه هیوادنو کې غښتلی کوي، خو په افغانستان او تاجکستان کې د مذهب تر څنګ د ژبې له کارت څخه هم کار اخلي. نو ځکه تاجکستان د ایران د لاسونو تر وړاندې ټینګ غبرګون څرګند کړي او د ایران پلوه عناصرو تر وړاندې ټینګ ګامونه اوچت کړي او ددوي فعالیتونه یې تر کنټرول لاندې راوستي خو په افغانستان کې د ایران د لاسوهنې دپاره امکانات پراخ دي، دوی یې له خنډه د افغانستان په هره سیمه کې فعالیت کوي او ان په تیرو کلونو کې یې د افغانستان ولسمشر ته هم د پټو فعالیتونو د ترسره کولو دپاره د پیسو ډکې بوجۍ استولې.

ایران غواړي په افغانستان کې د لبنان د حزب الله په شان یو پیاوړی پوځې ځواک رامنځ ته کړي څو په خپلو راتلونکو معاملو کې ترې کار واخلي. ایران لا څو میاشتې دمخه ددغه طرحې د پلې کولو دپاره د افغانستان حکومت ته خپل وړاندیزونه وړاندې کړی ول. د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال قلینباف او د بهرنیو چارو وزیر ظریف د فاطمیونو څخه د کار اخیستلو طرح د افغانستان په ګټه بولي، دوی د افغانستان دولت ته وړاندیز کړی ؤ څو د فاطمیون لښکر چې شمېر یې نژدې دېرش زره تنو ته رسېږي د افغانستان د وسله وال پوځ په لیکو کې له داعش سره د مبارزې په برخه کې وکاروي ، چې د افغانستان له لوري دغه وړاندیز و نه منل شو. نو ځکه په دې ورستیو کې د اولسي پاڅون تر نامه لاندې یې هڅې پیل کړي څو خپل روزل شوي وسله وال په افغانستان کې ځای پر ځای کړي.

ایران له پخوا کلونو څخه د افغانستان له اوبو څخه د ګټې اخیستو په مساله کې له افغانستان سره ستونزې درلودې ، چې په دې برخه کې د ترون په لاسلیک کېدو سره پای ته ورسیدې خو په افغانستان کې د جګړو له کبله ترون پلې نه شو او تر ننه دغه هیواد د افغانستان له اوبو څخه بشپړه ګټه اخیستې، خو اوس دغه اختلافونه په افغانستان کې د اوبو د بندونو په جوړېدو سره بیا راپورته شوي ، ایران د افغانستان د بندونو تر وړاندې په مستقیم او غیر مستقیم ډول ګواښو نه کړي او غواړي څو هغه ترون تر پښو لاندې کړې. نو ځکه ایران خپلو مخو ته د رسیدو په برخه کې د کمزوري افغانستان شتون د ځان په ګټه بولي څو د افغانستان له طبیعي زیرمو او منابعو څخه بې له ستونزې ګټه واخلي ، نو تصادفي نه ده چې د ایران پلوه کړیو له خولې هم د افغانستان د فدرالي کیدو نارې راوځي.

**پاکستان:**

دغه هیواد د خپل جوړېدو له ورځې له افغانستان سره زیاتې ستونزې لري او دغه بهیر لا په قوت سره دوام لري. پاکستان د سرې جګړې او تر هغې وروسته د افغانستان د ناورین تر ټول فعال او بې رحمه دوښمن پاتې شوی او د پراخو امکاناتو لرونکی هیواد دی چې د افغانستان په کمزورۍ کې خپلې ګټې وینې . دوی په افغانستان کې ژور استراتیژیک هدفونه تعقیبوي او غواړي افغانستان د خپلې سوبې په څېر په خپله اداره او کنترول کې راولي. د پاکستاني جهاد له وخته دوی په افغانستان کې مختلفې تروریستي ډلې جوړې او په وسلو سمبال کړې دي او په افغانستان کې یې  خپله جګړه توده ساتلې ، دوی ددغه ورنکاره او تروریستي سازمانونو له لارې د افغانستان بنسټیز جوړښتونه په نښه او له منځه وړي او په میلیونونه وګړي وژلي او په میلیونونو نور یې د وطن پرېښودو ته اړ ایستي دي .  پاکستان د سولې د بهیرونو تر وړاندې لوی خنډ دی ، دوی په نویومو کلونو کې د افغانستان د سولې بهیر شنډ کړ او اوس هم د سولې تر وړاندې خنډونه رامنځ ته کوي.  دغه هیواد د تروریستي او ترهګرو ډلو ټپلو روزنګی ، سمبالونکی دی. پاکستان د طالبانو او جهادي ډلو ټپلو له لارې غواړي خپل اغیز پر افغانستان تل پاتې او غښتلی کړي.
په ۱۹۷۹ – ۱۹۸۸ کلونو تر منځ د پاکستان پوځي  جنرال ضیاالحق خپله پوځي استراتیژي  داسې اعلان کړې وه: « افغانستان باید ورو ورو په اور کې وسوزول شي ». دوی د چارو د ښه سمون دپاره  د آی اس ای افغاني څانګه جوړه کړه، دې جهنمي سازمان د وسله واله ورنکاره ډلو دپاره وسلې ، مهمات برابر او په واک کې ورکول او ورکوي . دغې څانګې نه یوازې وسلې برابرولې او برابروي بلکې په افغانستان کې یې د جګړې لارښوونه او تنظیم هم په غاړه درلود او لري.

د پاکستان ورانکارې جګړه له جهادي تنظیمونو پیل شوه او تر ننه  د طالب او داعشي ډلو په جود کې دوام لري. دا یو پراخ بحث دی چې د بېلې مقالې دخېړولو غوښتنه کوي.

نن چې پاکستان د نړیوال فشار لاندې اړ ایستل شوی څو د افغانستان کشالې ته د حل لارې د پیداکولو له بهیر سره مرسته وکړي دغه هیواد بیا هم هڅه کوي څو د سولې تر وړاندې خنډونه رامنځ ته کړي، په اوس وخت کې پاکستاني واکمنان هڅه کوي ، د سولې له ترون دمخه طالبان ستر پوځي بری تر لاسه کړي څو د افغانانو په خپل منځي خبرو کې بر لاسی ولري. نو ځکه کله چې دوی د جګړې په ډګر کې بری نه تر لاسه کوي، د عامو خلکو په وژنې لاس پورې کوي.

دغه هیواد په لږ څه قناعت نه کوي دوی غواړي افغانستان لږ تر لږه تر خپل اغیز لاندې ولري. ځکه دوی په افغانستان کې سوله او ثبات په پاکستان کې د بې ثباتۍ او د پاکستان د ماتې په مفهوم ګڼي.

پاکستاني واکمنان د چین او امریکې سره په اړیکو کې دوه ګوني لوبه پرمخ وړي، له یوې خوا له چین سره خپلې اړیکې پراخوي ، خو د بلې خوا له لویدیځ سره د دوستۍ نغمه هم غږوي. دا لوبه په اوږد مهال کې کېدی شي ددغه هیواد پر خلاف سختې پایلې ولري.

**د روسیې فدراتیف :**

دغه هیواد د تزار له وخته د افغانستان په چارو کې ښکیل ؤ او د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د شوروي د واکمنۍ په مهال او د سړې جګړې د خونړۍ سیالۍ په بهیر کې د افغانستان چارو کې زیات ښکیل شو، چې همدغه ښکیلتیا افغانستان ته د سرو لښکرو د استولو سبب شو او په دې ډول افغانستان د سړې جګړې په تود ډګر بدل شو او تر سړې جګړې وروسته تر ننه دغه جګړه چې نور د شوروي جګړه نه ده ، په مختلفو بڼو دوام لري . نن چې له افغانستان څخه د امریکې او ناتو ځواکونه له شل کلنې جګړې وروسته د وتلو په حال کې دي ، یو ځل بیا د شوروي ځای ناستي روسیه چې د شوروي له پرزېدو وروسته یې سر بیا اوچت کړی او بیا په پښو درېدلې د افغانستان حالاتو ته خپل پام اړولی. روسیي د افغانستان په اړوند فعاله ډیپلوماسي پیل کړې او د افغانستان  د لانجې له کورنیو او بهرنیو  اړخونو سره فعاله اړیکې ساتي او د رسنیو د رپوټ له مخې له طالبانو سره پټې پوځې مرستې هم ترسره کوي. سربېره پردې روسیه  له بېلابېلو تنظیمو او شخصیتونو سره خپلې اړیکې ساتي او دغه ډلې په پرله پسې ډول مسکو ته رابولي او د افغانستان د سولې اړوند غونډې جوړوي.

په نړیوال ډګر کې له امریکې سره د روسې اړیکې ترینګړې دي ، امریکا روسیه یو خطرناک دښمن بولي، امریکا همدارنګه هڅه کوي روسیه د چین خلاف خپل ملګری کړي، خو تر اوسه روسیه د امریکې ددې هیلې خلاف له چین سره خپلې اړیکې پیاوړې کوي .خو د افغانستان په برخه کې دغه دوه هیوادونه سلا او مشورې کوي . هغه څه چې روسیه دې سیمې ته رابولي هغه دا مساله ده چې د امریکې او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته افغانستان د یو ناڅرګنده راتلونکې سره مخامخ دی. په نویومو کلونو کې په افغانستان  کې د رژیم تر نسکورېدو وروسته د جګړې لمبې تاجکستان، ازبکستان او ان چیچن ته خپرې شوې. د هغسې یو حالت تکرار بیا په سیمه کې د تندلارۍ او جګړو نوې څپه را پاروَلی شي. که څه هم روسیه له افغانستان څخه زیات واټن لري ، خو روسیه د تاجکستان او ازبکستان سره زیاتې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لري. نو ځکه روسیه غواړي د افغانستان په راتلونکې کې د خپلو ګټو ساتنه وکړي. همدا اوس روسیې له تاجکستان سره خپلې پوځې اړیکې غښتلې کړي او ازبکستان ته یې هم تر ۲۰۲۵ کال پورې د یو دوه اړخیز پوځې تړون د لاسلیکولو وړاندیز کړی. دا کار به په سیمه کې د روسیې دریځ لا پسې غښتلی کړي. له دې کار څخه د روسیې هدف دادی څو قدم په قدم د شوروي جغرافیه تر خپل اغیز لاندې راولې. ازبکستان چې د روسیې له وړاندیزونو سره دومره مینه نه ښایي او غواړي ناپېیلی دریځ ولري، په سیمه کې د روسیې د اغېز تر زیاتېدو وروسته به تر زیات فشار لاندې راشي څو د روسیې غوښتنو ته غاړه کېږدي.

روسیه یې له دې چې د نړېوالې واکمنۍ غوښتنه مطرح کړي ورځ تر بلې په نړیوالو معاملو کې خپل رول غښتلی کوي د روسیې او د امریکې د متحده ایالتونو ترمنځ نوې سړه جګړه ورځ تربلې تودیږي .

ددې هیوادونو ترمنځ د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې کړکېچ مخ په زیاتېدو دی او دغه دوه هیوادونه په اوسنۍ نړۍ کې د جیوپلیتک اړوند جلا او مختلف درک او پوهاوی لري.

په نړیوال ډکر کې نوي پیوستونونه او تړونونه د رامنځ ته کېدو په حال کې دي او ددغه دوه هیوادونو تر منځ د اغیز د سیمو په اړوند اختلافونه ژوریږي ، روسیه چې د نړۍ د کنترولولو وس او توان نه لري غواړي څو نړۍ څو قطبي اوسي ، خو د امریکې متحده ایالتونه چې غښتلی اقتصادي او پوځې ځواک لري غواړي خپل نړیوال ځواک وساتي او د نړۍ لومړی زبر ځواک پاتې شي.

د شوروي له بدن څخه جلا شوي جمهوريتونه هغه سيمې دي چې روسيه يې د خپلو ګټو په دايره کې ويني او دغه سيمو ته د نورو زبرځواکونو په تېره بيا د امريکې د متحده ايالتونو نږدې کېدل د خپلو ستراتيژيکو ګټو سره په ټکر کې بولي او هڅه کوي څو دغه سيمې د امريکې له اغيز څخه خوندي وساتي، په اوسني وخت کې د اختلاف دغه اور د اوکراين په سيمه کې د سختېدو په حال کې دی خو د منځنۍ اسيا سيمه هم ددغه سيالۍ او شخړې يوه مهمه برخه وه او ده. په ټوليزه توګه روسيه د ځان په ګټه بولي څو ګاونډي هيوادونه په خپله کړۍ کې ولري، ناتو کمزورې شي . روسان غواړي امريکايان د منځنۍ آسيا له پولو لرې وساتي. اوس چې امريکايي ځواکونه په افغانستان کې دي نو روسيه هڅه کوي امريکا د افغانستان په جال کې داسې راګير کړي لکه څنګه چې امريکايانو شوروي په افغانستان کې راګيره کړې وه. امريکا غواړي په افغانستان او سيمه کې داسې خنډونه رامنځ ته کړي چې په راتلونکي کې د روسيې او چين دپاره لوی سر درد پيداکړي، طالبان يوازنی ځواک دی چې له امريکې او ناتو سره يې جګړه پرمخ وړې نو ځکه روسيه له طالبانو سره ټينګې اړيکې رامنځ ته کړي همدارنګه روسيه له پاکستان سره خپلې اړيکي پراخې کړي. د امريکې تېر ولسمشر ترامپ ويلي ول ، موږ ولې په افغانستان کې جګړه وکړو دا د روسيې او چين کار دی چې هلته جګړه وکړي ځکه افغانستان ددغه دوه هيوادونو په ګاونډ کې پروت دی.   تندلارې داسې يوه  څپه ده چې چين او روسيه دواړه لړزولی شي. دغه څپه به د منځني اسيا دولتونه چې لا د شوروي د وخت پاتې شونې په کې واکمن دي  په ګونډو کړي. روسيه غواړي د خپلو نيابتي ډلو په مرسته دغه څپه د افغانستان په اډانه کې وساتي او روسيې او د روسيې ګاونډيو هيوادو ته لاره پيدا نه کړي. روسيه چې له پخوا په افغانستان کې نيابتي ډلې لري غواړي د خپلو نيابتي ډلو دپاره د نفوذ سيمې و لري چې  دا فکر هم خپله لاره د فدراليزم په طرح کې پيداکوي.

**چين:**

د امريکې د متحده ايالتونو بل ستر رقيب او دښمن دی چې د امريکې نړيوال اقتصادي او تنولوژيکي ځواک په پرله پسې  توګه له ننګونو سره مخامخوي او د وړاند وينو له مخې به په راتلونکو لسو کلونو کې د نړۍ ستر اقتصادي هيواد شي او د امريکې متحده ايالتونه به دويم دريځ ته په شا کړي، دغه دوه هيوادونه هم د نړۍ په مختلفو هيوادونو او د هغې له ډلې څخه د منځنۍ اسيا، افغانستان، ايران او پاکستان په هيوادونو کې په سختو سياليو بوخت دي، ايران په همدې وروستيو کې له چين سره د همکاريو ۲۵ کلن تړون لاس ليک کړ ، چې د امريکې د سخت تشويش اسباب يې برابر کړل، چين په پاکستان کې هم سترې پروژې تر لاس لاندې لري او نږدې ۶۰ ميلیارده ډالره ددغه هيواد اقتصادي رګونو ته پمپوي چې په راتلونکي کې به دغه هيواد د امريکې او لوېديځ د اغيز له ساحې و باسي. نو ځکه امريکايان غواړي يو ځل بيا پاکستان ته نوې کتنه وکړي، او اټکل کېږي چې له افغانستان څخه تلونکي پوځونه به په پاکستان او يا کوم بل ځای کې ځای پر ځای شي څو سيمه او پاکستان تر کنټرول لاندې وساتي . چين چې د نړۍ په مختلفو برخو کې له امريکې سره په سيالۍ بوخت دی ، افغانستان ته خپله پاملرنه ډېره کړې او يوې چينايي ورځپاڼې ليکلي ول چې چين غواړي د امريکايي پوځونو تر وتلو وروسته افغانستان ته زرګونه سوله ساتي پوځونه واستوي ، چين د افغانستان په برخه کې د امريکې او روسيې سره د ترويکا په اډانه کې هلې ځلې کوي.

د پورتني انځور پر بنسټ د افغانستان حالات د سيمې او نړۍ د سترو خوځښتونو تر ژورې اغيز لاندی دي او ددغه هيوادونو جوړ جاړي ته اړتيا لري، ځکه هر يو هيواد د خپلې لاسوهنې دپاره دليلونه وړاندې کوي . اوس چې د افغانستان د اوږدې جګړې د حل مساله د يادو شويو هيوادونو په جوړ جاړي پورې اړوند ده نو دغه هيوادونه په افغانستان کې د خپل نفوذ د ساتلو غوښتونکي دي چې په تيرو شلو کالونو کې د ملي يووالي د حکومتونو له لارې ترسره کېدل. اوس په نوي ويش کې چې د دويم بن په نامه هم

يادبېري او په ترکيه کې به ترسره شي د لړکيو د ګټو د خوندي کولو په پلمه غوارې د خپل اغېز سيمې و ټاکې.  فدراليزم ددغه اغيز د سيمو د خوندي کولو دپاره ددوی د نيابتي ډلو د استازو له خوا وړاندې کېږي.

د موجود حالاتو په رڼا کې ويلی شو ، چې د فدراليزم طرحه غير افغاني او پردۍ او د افغانستان د مختلفو دښمنانو طرح ده . او دا خبره ډېره خامه او بې مانا ښکاري چې مرکزي سيستم ناکام او فدرال سيستم بريالی سيستم دی ، دا يوازې او يوازې د ويش بهانې دي او بس.

ددې دپاره چې و ښودلی شي د فدرال مفکوره د افغانانو له منځه راپورته شوې نو دغه مفکوره کېږ ، ښې او منځ لارو کړيو له ادرسه  وړاندې کوي څو وښايي دا طرحه پراخ افغاني ملاتړ له څانه سره لري او ګڼې افغاني طرحه ده.

په دې لړ کې د بېلګې په توګه د افغانستان د يو  پخواني صدراعظم له خوا هم داسې يوه طرحه وړاندې شوه چې هڅه يې وکړه دا طرحه د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند له دريځه وړاندې کړي په دغه طرحه او تحليل کې ويل شوي چې نوموړې طرح د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند له خوا د شهيد محمد داودخان په وخت کې وړاندې شوې وه. دا په هغه وخت کې د يو اپوزيسيوني ګوند طرحه وه، چې د واک په مهال ددغه طرحې يادونه هم ونه شوه . او پر دغه طرحه د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند په ليکو کې کومه نظر پوښتنه هم نه وه ترسره شوې . خو اصلي پوښتنه داده چې د طرحې وړاندې کوونکې د يو څوکمن صدراعظم په توګه  د واک په مهال د اساسي قانون هغه طرحه ولې پلې نه کړه ؟ څرګنده ده چې دا يوه تبليغاتي طرح وه چې ګوند يې پر پلي کېدلو باور نه درلود.

د فدراليزم طرح څکه بې بنسټه طرحه ده چې په تيرو شلو کلونو کې  د يو غښتلي مرکزي دولت له جوړېدو څخه په آګاهانه ډول مخنيوی وشو ، همدغه ډلې چې نن د فدراليزم غوښتنه کوي همدوي او ددوی بهرنيو ملاتړو د يو دموکراتيک او پر قانون ولاړ نظام د جوړېدو او ټينګېدو څخه مخنيوی وکړ. نو ايا دا ضمانت شته چې دغه بې قانونه ، زورواکي به د يو ريښتني فدرالي نظام له جوړيدو څخه مخنيوی ونه کړي، او آيا په رښتيا دوی د فدراليزم په مفهوم پوه دي او غوارې هغه پلی کړي؟ څواب منفي دی څکه د افغانستان نژدې تېر تاريخ ددې خلاف ښايي.  افغانستان د زورواکانو او فسادو کړيو په تورو منګولو کې دومره ښکيل شوی چې د هر دموکراتيک بدلون د راوستلو غوښتنه په ستونې کې زندې کېږي. هغه کړۍ چې نن د فدراليزم غبږ پورته کوي ، په هغه وخت کې چې د بهرنۍ يرغل په مټ يې واک تر لاسه کړ ، حاضر نه ول دغه واک ان له خپلو نژدې متحدونو سره وويشي ، همدا اوس دوي چمتو نه دي هغه واک چې د پرديو په زور يې تر لاسه کړی په هيڅ ډول خوشې کړي او غوارې خپلو کورنيو ته يې ميراثي کړي. دوی چې د واک د غير متمرکز کول د ټولو ستونزو د حل لار ه بولي . څرګنده ده چې همدغه زورواکان غوارې د فدراليزم تر پوښښ لاندې خپل واک دايمي کړي.  په  داسې يو فدراليزم کې به د ناورينونو هغه اوږده لړۍ چې په تيرو څلويښتو کلونو کې د زورواکانو له خوا تر سره شوي ، په فدرالي دولتونو کې به په زياتې ژورتيا او شدت سره دوام ومومي .
 که چېرې دغه تش په نامه مرکزي دولت له خپلو پراخو واکونو سره و نه شو کولی د جنايتکاره زورواکانو مخه ونيسي نو په هغه حالت کې چې دوی لا زيات واکونه تر لاسه کړي څنګه به ددوی د قانون ماتونې او فساد مخه نيو ل کېږي؟ د فدراليزم طرحه د خلکو له احساساتو څخه د خلکو د برده کولو دپاره يوه شيطاني چلوټه ده.

***د افغانستان دپاره د يو فدرالي سيستم زيانونه په لنډه توګه داسې شمېرلی شو:***

- که چیرې په افغانستان کې د سیمه ایزې خپلواکۍ لرونکې دولتونه رامنځ ته شي او د مرکز د سیاسي او امنیتي واک کچه لږه شي ، نو جنګسالاران چې همدا اوس یاغیان دي او د امرونه او غوښتنو نه مني ، ډېر ژر به د مختلفو بهانو پربنسټ خپله جغرافیوي خپلواکۍ هم اعلان کړي.
- یو تش په نامه فدرالي نظام به د مغرضو هیوادونو د مستقیمې مداخلې زمینه برابره کړي. داسې بېلګې د نړۍ په نورو سیمو کې هم لیدل شوي ، لکه روسیې د کریمې د لاندې کولو او مداخلې دپاره د کریمې د روس میشته وګړو غوښتنه بهانه وګرځوله او کریمیه یې له اوکرین څخه ونیوله او بیا یې ټول پوښتنې ترسره او د اوکراین د خاورې دغه برخه یې په روسیې پورې وتړله. همدغه خطر د اوکراین ختیځې سیمه هم ګواښي چې د بیلتون پالو په کنترول کې ده او روسیه یې ملاتړ کوي. ارمنستان د اذربایجان د قرباغ سیمه هم په همدې بهانه ونیوله وه چې څو ځله د دواړه هیوادونو ترمنځ د خونړیو جګړو سبب شوه او په پای کې د ترکیې په مرسته آذربایجان خپله خاوره آزاده کړه. ترکیې په سوریه کې د امنیتي دلیلونو په بهانه د کردانو سیمې ونیولې او له کردانو څخه یې ددغه سیمو د پاکولو بهیر پیل کړی دی....
- په مختلفو وختونو کې دغو جنګي او نیابتي ډلو د افغانستان او افغاني ارزښتونو سره خپل مخالفت څرګند کړی او څرګندوي چې دا د افغانستان دپاره یو څرګند ګواښ دی چې له بهره ورته لمن وهل کېږي. دغه کړۍ د قومي تعصب او ددښمنۍ د رامنځ ته کولوسره او توده جګړه پرمخ وړي نو دداسې جریانونو په شتون کې فدرالیزم د بیلتون غوښتونکو ډلو د ودې دپاره مناسب حالات رامنځ ته کوي او په بشپړه توګه د هیواد ویش تضمینوي.
- د افغانستان په تېر تاریخ کې هیڅکله هم فدرالیزم شتون نه درلود او دا سیستم په افغانستان کې نه دی آزمویل شوی او نه یې بېلګه لیدل شوې، نو دا د افغانستان دپاره ناپېژاندل شوی سیستم دی چې د هغې پلي کول او ددې سیستم له اصولو سره آشنایي به لږ ترلږه نیمه پېړۍ وخت ونیسي، خو که دا سیستم هم لکه د شل کلنې دموکراسۍ په څېر پلي شي نو پایلې به یې تردې هم ناوړه او خطرناکې وي. څرنګه چې ددې سیستم غوښتونکې هماغه کړۍ دي چې د دموکراسۍ شل کلنه نخرې یې وکړې او په دې موده کې یې په فساد او جعلکاریو کې پوره مهارت تر لاسه کړی نو ملت به له بلې ستړې غمیزې سره مخامخ کړي.
- په نویومو کلونو کې د جنګسالارانو واکمنې د کور په کور او کوڅه په کوڅه جګړو او وژنو سبب شوه او همدارنګه په اوسنۍ شل کلنه واکمنۍ کې قوماندان سالارۍ وښودله چې د مرکزیت له منځه تلل څومره لویې بدمرغۍ رامنځ ته کولی شي نو ځکه دا د افغانستان په اوسني حالت کې چې د مرکز ماتونې هسې پراخې دي او غښتلي دي یوه خطرناکه طرحه بللی شو.
- له مرکزي سیستم څخه فدرالي سیستم ته د آوښتون یو ریښتنی او عملي او علمي پروګرام شتون نه لري ، د سیمه ایزو اورګانونو او شوراګانو تجربه ډېره کوچنۍ او نوې ده چې د فدرالي کېدو دپاره بنسټ رامنځ ته نه راوړي . په داسې حال کې چې په فدرالي نظامونو کې سیمه ایز حکومتونه پراخ حقونه او مسوولیتونه لري چې زموږ په هیواد کې سیاسي کړئ او خلک د هغو د منلو دپاره چمتوالی نه لري.
- هغه څه چې په افغانستان کې فدرالیزم ته لار آواروي یوازې د مدني ټولنو د غښتلي کولو او د دموکراسۍ په بنسټیز کولو سره تر لاسه کېدی شي، تر هغې چې مدني ټولنې غښتلي کېږي او دموکراسي بنسټیزه کېږي ډېره اوږده لاره په مخ کې ده ، تیرې شل کالنې دورې وښودله چې افغانستان لا له دموکراسۍ څومره زیات واټن لري.
- **پر دموکرسۍ ډېره لګول په دې مانا دی چې د بشر د حقونو نړیوال منشور و منل شي، سیکولاریسم پلی شي، ټولنیزه برابري تامین شي ، تبعیض له منځه یوړل شي ، په ټولو بر خو کې د ټاکنو له لارې**

**چاړواکي غوره شي . دموکراسي د فدرالیزم لومړنۍ شرط دی چې په تاسف سره په افغانستان کې دغه لومړنۍ او بنسټيز شرط تر پښو لاندې شوی او په هکله یې لازم پوهاوی شتون نه لري.**

- فدرالیزم د ويشل شويو دولتونو د یو موټي کولو طرحه ده نه د یو موټي دولت د ويشلو طرحه. افغانستان واحد هويت لري او د فدرالیزم د پر ځای ښودلو دپاره لازمه نه ده نوی هويت جوړ او رامنځ ته شي.
- کله چې وينو د فدرالیزم دپاره لا اړين حالات شتون نه لري نو دا ذهن ته رسي چې د فدرالیزم پلويان په ريښتيا د قومي اوملیتي ستونزو او جنجالونو د منځه وړلو خيال لري او که د قومي، ژبنۍ او مذهبي تصفيې فکرونه. د افغانستان خلکو د پېړيو په اوږدو کې يو د بل تر څنګ په سوله او دوستۍ کې ژوند کړی، هغه څه چې نن د قومي او ژبنيو اختلافونو په بڼه مطرح کېږي د بهرنيو استخباراتي شبکو له دښمنۍ ډکو او مغرضانه هدفونو څخه سرچينه اخلي.
- په افغانستان کې د بې ثباتۍ ستونزه هغه وخت راپيدا شوه کله چې د نړۍ واکې سيالۍ او لاس وهنې په بهير کې زورواکي ، تروريستان او جنګ سالاران رامنځ ته او له بهره يې پوځي ،سیاسي، لوجستکي او اقتصادي ملاتړ و شو او تر ننه دغه ملاتړ دوام لري.
- باید وويل شي د مدني حقونو، برابرۍ ، دموکراسۍ او سيکولاريزم رامنځ ته کېدل او رعايت په مرکزي حکومت کې هم ممکن دی په دې شرط چې قوانين يې توپېره او يو شان پلي شي.

خو که دا ومنو چې د فدرالیزم غوښتونکي ناوړه نيت نه لري او هدف يې د عدالت رامنځ ته کول دي بيا هم د لاندې دليلو له مخې دغه طرحه د عملي کېدو وړتيا ونه لري:

-په تيرو شلو کلونو کې د فساد د مافيايي ډلو واکمنۍ په افغانستان کې قومي ، ژبنۍ او مذهبي اختلافونه تر ممکنه برید ژور او پراخ کړي دي. د هيواد په هغه سيمو کې چې مختلف قومونه او مليتونه سره ګډ ژوند لري ، د بې مسووليته زورواکانو له خوا يې مال ، شتمنۍ او ژوند له ګواښ مخامخ دي او په هغه حالت کې چې زورواکان بشپړ واک ولري دغه ګواښ نور هم پياوړی کېږي کېږي.

– زورواکان، د فساد کړۍ، مافيا، قانون ماتونکي، ياغيان ، د ژبنۍ او قومي تعصبونو اور ته لمن وهونکي په اوسني نظام کې له قانون لوړ دريځ لري او له هر ډول پوښتنې معافيت لري ، د فدرالي واک په تر لاسه کولو سره به دغه واک په بې ساري توګه زيات شي او د عدالت د رامنځ ته کېدو امکانات به صفر ته راټيټ شي.

-زورواکان به د فدرالی واک په تر لاسه کولو سره اړوند سيمې په خپل شخصي ملکيت بدل کړي او ټولې اقتصادي زيرمې او طبيعي زېرمې به خپل شخصي مال وګڼي.

- دغه ډلې او ټپلې به د طبيعي شتمنيو او واک د ويش پر سر له يو بل سره لاس او ګريوان شي او يو ځل بيا به توپک ته لاس يوسي او د خونړيو جګړو سبب به شي.

-داچې د افغانستان په مختلفو ولايتونو کې مختلف مليتونه اوسېږي ، واکمن مليت به نور مليتونه د خپل کور او کلي پرېښودو ته اړ باسي. د هيواد په شمالي ولايتونو کې دغه حالت په تېرو کلونو کې د زرګونو خلکو د بې ځايه کېدو سبب شوی ؤ چې د فدرالي سيستم په منځ ته راتلو سره به مرکزي دولت ددې پېښو څخه د مخنيوي وس ونه لري.

- د مختلفو زورواکانو ترمنځ به د واک او ظرفيتونو د ويش پر سر خونړۍ جګړې رامنځ ته شي.

-همدارنګه فدرالي تشکيلات چې د نويو سيمه ايزه خپلواکۍ لرونکي دولتونو په بڼه رامنځ ته کېږي د بيروکراسۍ او تشکيلاتي پړسوب سبب شي، ياني په هر فدرالي واحد کې به ټول هغه مقامونه رامنځ ته شي چې په مرکز دولت کې شتون لري او دا د يو بې وزلي هيواد دپاره د اقتصادي مړينې مانا لري.
د دولت هغه سترې ملي پروژې به په بشپړه توګه شنډې شي چې د ګاونډيو هيوادونو له مخالفت سره مخامخ دي.

ګاونډي هيوادونو ته به په اړونده سيمو کې د لاسوهنې او ژور نفوذ زمينه برابره شي او په تدريجي ډول به دغه سيمې د مرکزي دولت پرځای له ګاونډيو هيوادو سره نژدې او په پای کې به له هيواد څخه جلا شي.
د حل لاره څه ده؟

- دغه خطرناکه حالاتو ته په کتو سره د جګړې دواړه خواوې بايد د خپل ملي مسوليت په پوهېدو سره بې له ځنډه د خبرو ميز ته کښېني.
- دواړه لوري بايد خپلې غوښتنې او طرحې په روښانه او څرګنده توګه په ليکلي بڼه د خبرو د ميز تر شا مطرح کړي. هڅه وشي غوښتنې او طرحې له هر ډول ابهامه تشي وي، څو د راتلونکو بهانو زمينه برابره نه کړي.
- د لوستو او متخصصو کادرونو څخه د اختلافونو د حل کميسون جوړ څو د اختلافونو د حل په برخه کې جوړونکي او ګټور چلندونه او حل لارې رامخ ته کړي.
- د اختلاف موضوعات مشخص او د خبرو اترو د ميز تر شا وڅېړل شي.
- د نا حل شويو موضوعاتو د حل دپاره د افغانانو پراخې اجماع يا لويې جرګې او يا رفرانډم ته مراجعه وشي.
- پر يو مناسب سياسي ميکانيزم موافقه وشي او د پلي کيدو دپاره يې په چټکۍ سره ميکانيزم جوړ شي او د بين المللي ټولنې په ملاتړ پلي شي.
- تر موافقې دمخه د اوربند دپاره تدبيرونه ونيول شي او د افغانانو د وينې تويولو مخنيوی وشي.
- د موافقې سره سم بشپړ او دايمي اور بند اعلان شي.
- د تر لاسه شوي تړون پر بنسټ بې له ځنډه عملي ګامونه پورته شي.
- لازمه ده په ټول هيواد کې عمومي بې وسلې کول تر سره شي.
- ټولې شخصي مليشې لغوه شي.
- د امنيت چارې يوازې روزل شويو ملي پوليسو ته وسپارل شي.
- له قانون څخه معافيت پای ته ورسول شي، متخلفينو ته بې له توپيره د قانون سره سم سزا ورکړی شي.
- ملي، قومي، ژبنيو او مذهبي اختلافاتو ته لمن وهل جرم و بلل شي او تر سره کوونکي يې د قانون سره سم په سزا ورسول شي ، ان اړينه ده په دې برخه کې ځانګړي قانونين رامنځ ته او تصويب شي.
- په کار ده د تيرې نيمې پېړۍ جنايتکاران، په دولتي جوړښتونو کې د مقام او دريځ د تر لاسه کولو له حق څخه بې برخې کړی شي، او د قانوني څېړنې دپاره محکمې ته وسپارل شي.
- په ټاکنو کې د هغه کسانو له ګډون څخه مخنيوی وشي کوم چې په فساد، جنايتونو، جاسوسۍ او جرمونو تورن دي.
- د ټاکنو د پاره داسې معيارونه وټاکل شي چې له امله يې څوک ونه شي کولی پيسې ، زور او تقلب د ټاکنو د پايلو د بدلولو دپاره وکاروي.
- په ټاکنو کې لاسونه او تقلب بايد خيانت و بلل شي او ترسره کوونکوته يې جزا ورکړی شي او په ټاکنو کې د ګډون له حق څخه بې برخې کړی شي.
- ولسمشرۍ او پارلمان ته د کانديدو معيارونه د تحصيل، وطنپالنۍ او صداقت پر اساس تنظيم شي.
- وسله وال، قومي ګوندونه منحل کړی شي .

- دولتي ادارو ته زده کړي او په کار پوه کادرونه وګمارل شي او د زورواکانو میراثي سیستم پای ته و رسول شي.
- که د اساسي قانون د تعدیل اړتیا رامنځ ته شي په کار ده  لویه جرګه را وبلل شي.
- لویې جرګې ته استازي باید د ولایتونو او ولسوالیو څخه ، د هغه کسانو له منځه را وبلل شي چې په جرم او فساد کې ککړ نه وي او لږ تر لږه لوړې زده کړې ولري او که ممکنه وي د حقوقو په برخه کې زده کړه او پوهه ولري.
- استازی باید قومي او ژبني تعصب و نه لري ، هغه کسان چې د قومي او ژبنی تعصبونو او نفاق د خپرولو مخینه لري باید د استازیتوب له حق څخه بې برخي شي.